د کابل مجلې ګڼه – ګڼه ۲۷۳ – مخ ۱۱ – میزان ۱۳۲۹ – سپتمبر ۱۹۵۰

# بې ځایه غپا

دغرب پخوا کښې یوګلی و، چه په هغه کښې د ګلي مشر یو سپی ساتلی و، چه خورا پر ګران و، ددې سپي څرنګه چه دساتلو سپو عادت دی د فقیرانو سره ډېره ورانه وه داځکه چه دانې یه دوډۍ راسره شریك نشي، اونږدې همسایه ګانو ته هم خورا په قهر غاپي مګر پرصحرا ایمان نلري؛ دنغري غاړه یه مرګ ته پرېږدي حتی چه هیڅ ډوډۍ ورنکړي هملګې ښورروي اودخاوند په تش ږغ یا ټ‍ـــي داټول صفات یکښې غونډ شوی وه مګردوه عیبونه ئې درلودل اول داچه ټوله شپه به چپ و، خو هرسهار به ئې په طلوع کې په غپا پیل کاوه ( تا به ویل چه دتاریکی ســـره جوړ؛ اودروښنائي سره دښمن دی ) اوبل داچه نږدې همسایګان زښت ورځنې په عذاب وه ولې چه د شاوخوا په غلي، غلی راته اوږ‍ـــه یته خوله به ئې خولي اچولي یا به ئې ناځاپه غپله سري پ ئې وېراوه؛ همسایه ګان حیران وه چه څه وکړي؟ که وسپي ته لاس اچوي خاوندئې خپه کېږي، او که ږغ نه لري سپی لانېري کوي اوخراب‍ـــي رسوي هرڅه چه ئې تدبیر کاوه بله چاره ئې نه ولیده غیر له دغه چه ښېرې وکـــړي چه خدای دی خپل خاوند پرمسلط کړي چه دوی ئې دشره څخه خلاص شي.

اوس نوګوري دخدای کارونه چه څه کېږي؟

دسپي دخاوند یوعادت و چه صباني همدغه وخت چه سپی په غپل ده به خوب کاوه خو څرنګه چه دسپي غپا پرده بده لګېده یوه داکترته ئې رجوع وکړه چه ځما داعادت دی چه صباني ویده کېږم اودسپي مې داعادت دی چه پرهمدغه وخت باندې غاپي مګر نور ټوله شپه چپ وي ته وګوره داسې دوارا کړه چه ځما سپی دنورو سپو په څېرشي اویائي یوازې دغه خوی اصلاح شي، چه ماله خوب راونه پاڅه‌وي.

داکټر: زه دسپو داکټر نه یم خودومره ویلای شم چه داستاسپي دنورو سپو په څېر نشي کېدلای نورسپي چه دشپې غاپي هغه کور ساتي او داسپي هښیار دی فقط ستا خوښې غواړي اودې خیال کوي چه ځما خاوند به هملکه نورخلك دشپې خوب کوي نوځکه دی په شپه چپ اوسي چه ته دخوبه راونه پاڅېږې اوسهار په طلوع کې ځکه غاپي چه تاته داوښيي چه خپله وظیفه اجرا کوي.

دسپي خاوند:- داکټر صاحب ځما داسپي ځینې نور داسې صفتونه لري چه ایله کولای ئې هم نشم.

داکټر: څه صفتونه لري؟

د سپي خاوند:

( ۱ ) څه وخت چه ویده کېږم دی مې پښې څټي چه ښه خوب راشي.

( ۲ ) د کوم همسایه څخه چه خپه شم اونه غواړم چه ځان په بدنام کړم نووده ته سترګـــي ووهم دی پوهېږي چه باید څه وکړي؟

( ۳ ) ځینې نا یا کـــه چه دخوني څخه په جاړونه ټولېږي دی ئې په ژبه پاکه‌وي اونور .... نور ډېـــر کمالونه لري چه ټول نشي بیانېدلای.

داکټر: ښه چه دونه کمالات لري اوستا خوښ دی نوته دحیواناتو داکټرته رجوع وکـــړه بلکه علاج ئې وکړي.

دسپي خاوند ځی اوداسپي وبل داکټرته بیانی اودا داکټر چه واقعاً په امراضو کښې دحیواناتو متخصص دی پوهېږي چه دشپې په سترګو کښې علت دی اولړخا ته ته ځکه غاپي چه دده سترګې پربرېښي؛ نوفی الحال ئې له سپي ومعاینه خانې ته بوت او عملیات ئې پرشروع کړه، خو له بده مرغه په ځای کښې ددې چه سپی جوړ شي په سترګو ړوند شو اوخاوند ئې کوځې ته وشاړه. اوهمسایه ګان ئې پـــه خوشحاله شول اووی ویل دغه ده زموږ دعا قبوله شوه.

( پښتون - له قندهاره )